

# د هلمند خبرپاڼه

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

لومړۍ ګڼه | ميزان، ۱۳۹۳

## د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام په هلمند کې د حقوقي خدماتو هڅې تقويه کړې



د لښکرګاه په يوه زندان کې ښځينه بنديانې.

هغه خلک چې په هلمند ولايت کې پر جرمونو تورن يا بنديان دي، اوس به په لښکرګاه کې د افغانستان د مدافع وکيلانو د خپلواکې ټولنې د دفتر تر پرانيستې وروسته مدافع وکيلانو او حقوقي خدماتو ته لاسرسی ولري. په دې لړ کې به د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د عدالت او بشري حقونو پروژې په مرسته لس مدافع وکيلان وګومارل شي، چې ټه ده په ۱۳۹۳ کال کې به شاوخوا ۱۵۰ کسانو ته حقوقي خدمتونه برابر کړي. د دې پروژې مالي ملاتړ د ډنمارک هېواد کوي.

د افغانستان د اساسي قانون له مخې هر فرد حق لري چې ځانته يو مدافع وکيل وټاکي، خو ډېری افغانان يا مدافع وکيل ته لاسرسی نه لري او يا يې لګښت نشي پرېکولای. له همدې امله پر جرمونو تورن کسان چې مدافع وکيلان نه لري، د اوږدې مودې لپاره په زندانونو کې پاتې کېږي.

په هلمند ولايت کې د کوچنيانو په ګډون نږدې ۱۵۰۰ کسه بنديان حقوقي مرستو ته اړتيا لري. ځيني له دوی د قانون د ناسم تفسير له امله زنداني شوي. د کرکېچ د نړيوالي ډلې په وينا په افغانستان کې پام وړ شمېر خلک په قصدي ډول، د هغو اعمالو د ارتکاب له کبله چې جرمونه انګېرل شوي خو اصلاً جرمونه نه دي، توقيف شوي دي. دا سرچينه زياتوي چې په ډېرو مواردو کې خلک د ادعا شويو جرمونو لکه د ځمکو پر سر لانجو، پورونو، يا کورنيو شخړو له امله زنداني شوي، حال دا چې قانون په دغو مواردو کې توقيف په ښکاره ټکو کې ردوي.

په هلمند کې د افغانستان د مدافع وکيلانو د خپلواکې ټولنې د دفتر له تاسيس سره به دوسيې د دې ولايت د وړيا حقوقي مرستو ځانګې ته ور استول کېږي. له دې وړيا مرستو څخه به، چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام لخوا برابرېږي، د هغو دوسيو لپاره مالي امکانات برابرېږي چې د رسمي مدافع وکيلانو لخوا پرمخ وړل کېږي، او هغو دوسيو ته به لومړيتوب ورکول کېږي چې ښځې، کوچنيان او بېوزله خلک پکې ښکېل وي.

د ۲۰۱۴ کال د اګست پر شلمه په هلمند کې د افغانستان د مدافع وکيلانو د خپلواکې ټولنې د دفتر د پرانيستې پر مهال د هلمند والي، محمد نعيم، په ټولنه کې د سولې او عدالت د تامين لپاره د مدافع وکيلانو پر اهميت ټينګار وکړ.

د هغو خلکو له جملې څخه چې د هلمند په مرکزي محبس کې بنديان دي، ۱۶ يې ښځې دي چې ډېری يې پر اخلاقي جرمونو، لکه زنا، تورنې دي. نورې يې له کوره پر تيښتې، چې د لويې ښارنوالۍ او سترې محکمې په وينا جرم نه ګڼل کېږي، پړې ښوول شوي دي. د هلمند په دارالتاديب کې ۵۶ کوچنيان بنديان دي چې پنځه يې نجونې دي.

په لښکرګاه کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د عدالت او بشري حقونو پروژې يو همغږوونکی ، ذبيح الله، وايي، "ډېری خلک مدافع وکيلان نه لري. شته مدافع وکيلان ټولو دوسيو ته نشي رسېدلای، ځکه تقاضا خورا لوړه ده. د دې دفتر پرانيسته پر سم لوري يو ګام دی، چې ځيني دا ډول ستونزې به هوارې کړي."

د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د عدالت او بشري حقونو پروژه له لويې ښارنوالۍ سره هم مرسته کوي چې د هلمند ولايت لپاره دوه وکيلانې، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړلو په برخه کې کار وکړي، وګوماري. سربېره پر دې، دغه پروژه د رسمي عدلي سيستم او هغو کسانو ترمنځ، چې مسئلې يې د سنتي عدلي لارو، لکه شوراګانو او جرګو، له لوري څېړل کېږي، همغږي رامنځته کوي او په ورته وخت کې دا هڅه کوي چې دا قضيې رسمي قضايي سيستم ته ور واستول شي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د عدالت او بشري حقونو پروژه له عدليې وزارت او نورو همکارو ادارو سره کار کوي چې په ټول هېواد کې د عدالت او بشري حقونو په برخه کې د ملي لومړيتوب لرونکو پلانونو په پلي کولو کې مرسته وکړي.

## په ګرمسېر ولسوالۍ کې يوه پُل خلک له ښوونځي او بازار سره ونښلول



د دې پله په مرسته کروندګر خپل حاصلات په لږ وخت کې بازار ته رسوي.

پخوا به د هلمند ولايت د ګرمسېر ولسوالۍ د خروټو سيمې خلک پر يوه زاړه ځوړند پله، چې پر يوه زابر جوړ شوی و، تېرېدل او يا به تر يوه اوږده واټن وهلو وروسته ښوونځي، روغتيايي کلينيک او بازار ته رسېدل.

په دې وروستيو کې د کليو بيارغوني او پراختيا وزارت او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د ساحوي پراختيا د ګډ ملي پروګرام په هڅه او د جاپان په مالي ملاتړ د يوه پياوړي پله تر جوړېدو وروسته حالت بدلون موندلی.

د خروټو سيمې د اوو کليو ۱۱۰۰۰ اوسېدونکي، موټرې او څاروي پر دې پله په خوندي ډول د زابر بلې غاړې ته ور اوړي. د پله د دې پروژې د پلي کېدو پر مهال ۱۲ محلي خلکو ته د شپږو مياشتو لپاره د کار زمينه برابره شوې وه او هر کارګر د ورځې ۴۰۰ افغانۍ مزدوري اخيسته.

نوي پله ښوونځيو، روغتيايي کلينيکونو او محلي بازارونو ته مزل نږدې نيمايي کړی او اوس د زابر د دواړو غاړو خلکو ترمنځ تګ راتګ تر پخوا ډېر زيات شوی. د سيمې ډېری اوسېدونکي کروندګر دي چې سبزيجات او مېوې، په ځانګړي ډول خربوزې او هندوانې، چې د دوی د عايد عمده برخه جوړوي، توليدوي. نوي پله د سيمې کروندګر د دې جوګه کړي چې خپل تازه حاصلات د ولسوالۍ او ولايت بازارونو ته په خورا لږ وخت کې ورسوي، او په تګ او راتګ کې ۲۴ کيلومتره واټن وسپموي.

د ساحوي پراختيا ملي پروګرام د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام او د کليو بيارغوني او پراختيا وزارت يوه ګډه هڅه ده چې غواړي په افغانستان کې بېوزلي د کرنې او په کليوالي سيمو کې د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د پايېدونکي معيشت د تقويې او د کليوالي زېربنا رغولو له لارې، په پام وړ کچه را کمه کړي.

## په بُست ولسوالۍ کې کوچيانو ته د څښاک اوبه برابرې شوې



دکوچيانو يوه کورنۍ د يو-اېن-ډي-پي په مرسته له جوړ شوي څاه اوبه وړي.

د بُست ولسوالۍ د ريګستان سيمې څه لپاسه ۲۴۰۰ کوچيان اوس د ساحوي پراختيا د ملي پروګرام او د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د سولې او بېرته پيوستون پروګرام لخوا د ۲۰ کيندل شويو څاه ګانو په برکت د څښاک اوبو ته لاسرسی لري.

دې پروژې د څاه ګانو په کيندلو کې ۱۴ محلي خلکو ته د ۴۰ ورځو لپاره د کار زمينه برابره کړې وه، چې هر يوه يې د ورځې ۴۰۰ افغانۍ اجوره اخيسته. پدې کارګرو کې پنځه يې پخواني جنګيالي ول چې په دې وروستيو کې يې له تاوتريخوالي لاس اخيستی او له خپلو کورنيو سره يوځای شوي دي. سربېره پر دې، د سيمې خلکو د وړيا کارګرو پر برابرولو او د پروژې ځای ته د ودانيزو موادو پر لېږدولو د څاه ګانو په کيندلو کې خپله لس سلنه ونډه هم ترسره کړې.

د څاه ګانو تر کيندل کېدو دمخه دغو کوچيانو د څښاک لپاره د باران له اوبو، چې په ډنډونو کې به ولاړې وې، او يا هغو اوبو، چې د دوی ښځو او کوچنيانو به پر خرو او اوښانو لس کيلومتر لرې د هلمند له سيندە راوړې، ګټه اخيسته. ډېری وخت به دا اوبه په ځانګړي ډول د کوچنيانو د اسهال او نورو انتاني ناروغيو سبب کېدلې. د دغو کوچيانو يو مشر، عبدالکريم، وايي، "يوه ورځ مې ماشومان سيند ته د اوبو راوړلو لپاره تللي ول، چې څو ساعته وروسته تش لاس را ستانه شول او ويل يې چې خره او د اوبو لوښي يې سېلاب يوړل."

اوس د دې کوچيانو ژوند تر پخوا ډېر ښه شوی. ښځې او کوچنيان يوازې په څو دقيقو کې له دې څاه ګانو، چې پر لاسي پمپو سنبالې دي، اوبه راوړلای شي. د عبدالکريم په وينا د اوبو نشتوالي پخوا د دوی ډېر څاروي هم وژلي، خو اوس دوی د خپل ځان او څارويو لپاره، چې د دوی د عايد يوازينۍ سرچينه ده، کافي اندازه اوبه لري.

د ساحوي پراختيا ملي پروګرام د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام او د کليو بيارغوني او پراختيا وزارت يوه ګډه هڅه ده چې غواړي په افغانستان کې بېوزلي د کرنې او په کليوالي سيمو کې د کاري زمينو رامنځته کولو له لارې په پام وړ اندازه را کمه کړي. د افغانستان د سولې او بېرته پيوستون پروګرام د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام يو بل پروګرام دی چې له سولې عالي شورا سره کار کوي چې اوسني وسله وال مخالفين وهڅوي چې له تاوتريخوالي لاس واخلي، خپلو کليو ته ور وګرځي او له خپلو کورنيو سره يو نوی او وياړلی ژوند پيل کړي.

## د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام هلمنديانو ته د لاښه خدمت لپاره په لښکرګاه کې خپل دفتر پرانيست



کارکوونکي په لښکرګاه کې د يو-اېن-ډي-پي د نوي دفتر په انګړ کې راټول شوي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د هلمند ولايت په مرکز لښکرګاه کې يو نوی دفتر پرانيست، چې خپل فعاليتونه تر يوه چتر لاندې راغونډ او د خپلو بېلابېلو پروژو ترمنځ همغږي پياوړې کړي. له دې دفتره به د ملګرو ملتونو نورې ادارې، چې په دې ولايت کې شتون لري، هم ګټه پورته کوي.

د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام له دې دفتره به د افغانستان د محلي حکومتولۍ پروګرام؛ د افغانستان د عدالت او بشري حقونو پروژه؛ د جنډر برابرۍ پروژه او د افغانستان د سولې او بېرته پيوستون پروګرام کار اخلي.

دغه دفتر، چې د برتانيې، ډنمارک او استونيا هېوادونو په ملاتړ جوړ شوی، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د سيمييز شتون د ستراتيژۍ يوه برخه ده، چې موخه يې خلکو ته پراختيايي فعاليتونه نږدې ور وړل دي.

**د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام | د هلمند دفتر**

لښکرګاه، هلمند، افغانستان

www.af.undp.org

را سره په اړيکه کې اوسئ:

www.facebook.com/UNDPinAfghanistan

www.twitter.com/UNDPAf

www.youtube.com/UNDPAfghanistan

UNDP

Empowered lives.
Resilient nations.